# په سویډن کښي د پښتو ژبي د زده کوونکو

# د نهم ټولګي د پاره د پښتو ژبي د لوست کتاب

# ۹

ترتیب کوونکۍ: عبدالعلي رسولزاده په مالمو کي د پښتو ژبي ښوونکۍ

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده  په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري. د  مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس  هم شامل کړئ دئ چي نومرې یې د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري، ځکه یې نو د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومرو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا څخه ترتیب کړئ دئ. وروسته تر دې نو بیا د اړونده مورنیو ژبو د  ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي چي دغه د کار پلان په دواړو ژبو یاني مورنۍ ژبه او سویډني ژبه لیکل کیږي.
د دغه کتاب مضمونونه په سویډن کي د پښتو ژبو زده کوونکو د نهم ټولګي د پاره د ښوونکو د کار د پلان سره برابر را ټول سوي دي.

پدې کتاب کي د بیولوژي او ځني نورو مضمونو په باره کي هم څه نا څه لیکل سوي دي، دا ځکه چي زموږ زده کوونکي باید وکولای سي چي د مورنۍ ژبي څخه و سویډني ته او د سویډني ژبي  څخه و مورنۍ ژبي ته ترجمه و کړای سي. د دې کار د پاره  باید زده کوونکي دغه لغاتونه په دواړو ژبو و پیژني.

دغه کتاب  به د ازمویني په توګه د یو څه مودې د پاره تدریس سي او د دغه تدریس په جریان کښي به د ښاغلو ښوونکو، میندو، پلرو او زده کوونکو نظریې د قدر وړ و ګڼل سي.

د دې کتاب مضمونونه د افغانستان د اوسنیو، پخوانیو او ځني نورو کتابو څخه راټول سوي دي.

په درنښت


Abdul Ali Rasulzada
Sunnan  vägen  271
216 17  Malmö
Tel: 040- 156753
alirasulzada@hotmail.com

# زده کوونکي

د مکتب ښه شاګردان یو
د هیواد ښکلي ګلان یو

ښوونځي ته ځو په مینه
زیار ایستونکي زیارکښان یو

په شوق وایو خپل درسونه
موږ د پوهي مینان یو

مدام پام په کتابو کړو
د کتاب طرفداران یو

د لویانو کړو لمانځنه
د عالي خوی خاوندان یو

رښتیا وایو رښتیا اورو
په رښتیا پسې روان یو

مهال وېش سره سم درومو
همېشه وخت شناسان یو

ازمویني نه څنګ نه کړو
ښه ډاډه په امتحان یو

هیڅ وخت چا سره جنګ نه کړو
یو د بل ښه رفیقان یو

د نژند یو موږ ملګري
مینه ناک د خپل عرفان یو

محمد عثمان (نژند)

# غوره وييناوي

هسي رښتني ملګري و مومئ چي په ښه ورځ مو مجلس پرې ښايسته وي، او په سخته ورځ مو ملا تړ سي.

( حضرت عمر رضي الله تعالی عنه )

هر څوک چي زموږ عيبونه را ښيي پاک خدای (ج) دي پرې و رحميږي.

( حضرت عمر رضي الله تعالی عنه )

# د سګرېټ څکولو ګټې

په يوه مجلس کي يو څو تنه ناست وه خبري يې کولې. د مجلس د منځ څخه يوه مجلسي پوښتنه وکړه، "څوک کولای سي چي ماته د سګرېټو ګټې ووايي؟"

د مجلس د منځ څخه يوه لا هم څه و نه ويل ځکه چي سګرېټ څکول خو موږ ته معلوم دي چي کومه ګټه نه لري.

سوال کوونکي وويل چي" زه به نو اوس د سګرېټو د څکولو ګټې در ته ووايم، سګرېټ څکول درې ګټې لري" . د مجلسيانو په فکر کښني ورغله چي دا سړی څه وايي.

سړي وويل :" سګرېټ درې ګټې لري:"

لومړۍ ګټه :" سپی دي نه داړي. "

دوهمه ګټه: " کور ته دي غله نه در ځي" .
دریمه ګټه: " سړی نه زړیږي."
خلکو ګومان وکړ چي رشتیا وایي.
سړي وویل غوږ ونیسئ چي زه یې درته روښانه کړم:
" سپی یې پدې نه خوري چي د سګرېټ څکولو په سبب به ناروغه وي او لګړه به په کار اچوي نو سپی چي لګړه ویني نو نه به ورته رانیژدې کیږي.
کور ته یې غله ځکه نه ورځي چي د سګریټ د څکولو په سبب ټوله شپه ټوخیږي او غل دا ګومان کوي چي د کور خاوند ویښ دئ. سګرېټ څکوونکئ پدې نه زړیږي چي په ځواني کي لا مړ کیږي."

## صبر

په هر غم کښي خاموش اوسه او که نه وي
د بد خواه خاطر به ښاد دوست به ازار کړي
صبر و نیسه په مخ کښي که مراد غــواړې
پـــه تلوار به هیڅ و نه کړې که تلوار کړې

(رحمان بابا)

# روغتیا

روغتیا (صحت) هغه نعمت دئ چي خدای (ج) و انسانانو ته ورکړئ وي. ټوله انسانان غواړي چي د پوره روغتیا درلودونکي وي. دوی غواړي چي په بدن کي يې هیڅ غړی خوږمن نه وي او نه يې په بدن کښي تبه وي.

د انسان روغتیا هغه وخت خرابیږي چي د انسان و بدن ته کوم مکروب ور ننوزي او یا دا چي د چنګابښ د ناروغی په سبسب د بدن کوم غړئ خپل کار پرېږدي.

مکروب څشی دئ؟

مکروبونه هغه کوچني ژوندي موجودات دي چي په سترګو نه لیدل کیږي او انسانان کولای سي چي د ډیر قوي مایکریسوب په مرسته يې ووینې. مکروب د انسان په بدن کي ډېریږي او هلته د انسان په بدن کښي هغه تیار خوراکي مواد خوري کوم چي انسان د خپل ځان د پاره جوړ کړي وي.

کله چي یو څوک ناروغه سي نو دوا خوري او ډاکتر ته ځي چي جوړ سي. پخوا دغه عصري دواوي نه وې او انسانانو د یوناني طبیبانو څخه دوا اخیستله چي هغه يې د نباتاتو څخه جوړوله او یا به يې ارغ (عرق) ځني ایستئ او ناروغانو ته به يې ورکاوه. اوس چي دغه عصري او نوي دواوي پیدا سوي دي نو ډاکتران يې و ناروغه ته پر یوه کاغذ ور لیکي او ناروغان يې د دواوو د پلورنځي څخه رانیسي.

مکروبونه اکثره وخت په نا پاکو او ډیرو زړو خوړو کښي ښه وده کوي او بیا د انسان و بدن ته ور ننوزي او انسان ناروغه کوي.

اوس ډاکتران او د روغتا پوهان خلکو ته داسي لار ښووني کوي چي که انسانان خپل شاوخوا پاک و ساتي نو به د مکروبو د ډېرېدو مخه و نیول سي او انسانان په د ناروغیو څخه خلاص سي.

د ناروغيو ځخه د ځان ساتلو يوه بله لاره د واکسين کول دي. واکسين دوا نه ده مګر د انسان په بدن کښي د ځينو ناروغيو ځخه د مخ نيوي د پاره د سړی سره مرسته کوي.

# تربيت

دا خونونه په توپک په توره نـــه شي
دا خونونه چي د خلکو په زبـــان شي
تربيت چي د بـــاغوان د لاســـه مومي
په هر ځای باندي ګلونه د بوستان شي
هر استاد سره چي کښيني يو څو ورځي
د هغــه هنــر پــه ده کــي نمايان شي
د مـغلو سـره کښېناسـتـــه مغـــل شو
د افغان سره که کښيني نور افغان شي
(خوشال خان)

# ښه نيت درلودل

د پسرلي ورځي او د کار وخت وو، يو سپين ږيری بزګر په خپله مځکه کي په کار بوخت وو او نيالګي يې ايښودل. دده عمر له شپېتو کالو ځخه تېر وو ، د چا خبره د ګور پر غاړه ولاړ وو. مګر دده په همت کي

څه تغير نه وو راغلئ او په دغه وخت کي يې لا هم خپل کار کاوه. دی د نيالګيو په ايښودلو لګيا وو چي نا څاپه يو پاچا پر اس سپور وو او ور ته راغئ. پاچا پوښتنه ځني وکړه چي" ستا عمر خو اخر ته رسېدلئ دئ او څرګنده ده چي ته د دې نيالګيو مېوه نه سې خوړلای او نه يې سيوري ته کښېنستلای سې، نو ولي دومره زيار کاږې او ځان په تکليف کوې؟"

سپين ږيری چي د ښه فکر خاوند وو پاچا ته يې وويل چي" پخوانيو زموږ د پاره نيالګي ايښي وه چي موږ يې مېوه وخورو او تر سيوري لاندي يېکښېنو، نو موږ هم بايد نيالګي کښېنوو چي تر موږ وروسته خلک يې مېوه وخوري او تر سيوري لاندي يې کښېني".

پاچا ته د سپين ږيري خبري ښه خوند ورکړ او څه پيسې يې دبخشش په توګه ورکړې.

سپين ږيری په خندا سو او ورته و يې ويل چي" د نورو نيالګي پسله څو کالو مېوه کوي مګر زما نيالګيو اوس ځای پر ځای مېوه وکړه او ما د خپل زيار ثمر وليدئ".

پاچا پدې خبره څه نوري پيسې هم ورکړې او ډېره مهرباني يې ورسره وکړه.

سپين ږيری بيا په خندا سو او ويې ويل چي" د نورو خلکو نيالګي په کال کي يو وار مېوه کوي مګر زما نيالګيو په يوه ورځ کي دوه ځله مېوه وکړه. نو زه به ولي نيالګي نه کښېنوم او په دې لار کي به زيار نه باسم؟"

**بخيل**: هغه څوک دئ چي خپل شی و چاته نه ورکوي.

**ابخل**: هغه څوک دئ چي د بل چا شی يې پر چا نه وي پېرزو.

# اسم (نوم)

اسم یا نوم د شي، انسان، حیوان او ځای نوم ته وایي لکه مېز، قلم، کتاب، سړی، سدو، احمد، ملالۍ، افغانستان، کور او نور.

په لاندي جملو کي تر اسم لاندي خط کش سوئ دئ ویې لولئ:
موږ کابل ته ولاړو.
ملالۍ خپله ډوډۍ وخوړه.
احمد خپله روغتیا ښه ساتي.
زده کوونکي خپل کتابونه لولي.
خوشال د کور څخه مېلې ته ځي؟

تمرین: په لاندي جملو کي تر اسم (نوم) لاندي خط کش کئ.
مزږ ستاسي کور ته ځو.
د ملالۍ خور د کتاب سره مینه لري.
کالي دي پرېوله.
دوی د کابل څخه سویډن ته راغله.
موږ غواړو چي کار وکړو.

اسم (نوم) د شمېر له مخي یا مفرد (یو) یا جمع (ډېر) وي لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| هلک | هلکان |
| موږک | موږکان |
| سپی | سپي (سپیان) |

| | |
|---|---|
| خر | خره |
| ښځه | ښځي |
| انا | انا ګاني |
| پښه | پښې |

# حضرت محمد (ص)

حضرت محمد (ص) د عبدالله زوی او د عبدالمطلب لمسی دئ. پلار یې دده تر پیدا کېدو د مخه لا وفات کړئ وو. د ډېر کوچني والي څخه د ښو خویونو او اخلاقو خاوند وو.

د ټولو خلکو په منځ کي د صادق (ریشتیا ویونکي) په صفت مشهور وو. د ټولني د خلکو د ناوړو کارو څخه په فکر کي وو. په هغه وخت کي چي به چا په کور کي نجیلۍ پیدا سوه نو پلرونه به یې ډېر خواشیني وه. ډېرو خلکو به خپلي دغه نوي پیدا سوي لوڼي ژوندۍ ښخولې. او دا به یې ویل چي دا خو نجیلۍ ده ګټه نه سي کولای، کور نه سي ساتلای او جنګ نه سي ګولای. نو حضرت محمد (ص) به هغو خلکو ته داسي ویل چي "دا نجوني مه وژنئ دا به داسي زامن راوړي چي هم به ګټه کولای سي، هم به کور ساتلای سي او هم به جنګ کولای سي."

پر بې وزلو مهربانه وو، د ناروغانو به یې پوښتنه کوله، د یتیمانو او

کونډو د حاله به یې ځان خبراوه او مرسته به یې ورسره کوله.

د ښځې نوم یې بي بي خدیجه وو. لور یې چې بي بي فاطمه نومېده او د حضرت علي (کرم الله وجه) مېرمن وه چې دوه زامن یې درلوده او په کربلا کې شهیدان شوه.

# د انسان کمال

یوه ښکاري په یوه ځنګله کې یوه کوتره ولیده، ټک یې پر وکړ. دا کوتره زخمي سوه، والوته راغله د زمري و مخ ته ولوېده.

زمري وویل: "څه کوې؟"

کوترې وویل: "د انسان د لاسه، ما بې سببه په توپک ولې."
یو ساعت وروسته یوه ډله د ځنګله د ځناورانو څخه لکه پړانګ، ګیدړه، سرکوزی، چغال، شرمښ، بیزو، شکوڼ، کوږ، او نور، زمري ته په عرض راغلل.

زمري وویل: "خیر څه در سوي دي، ستاسي راتګ د څه د پاره دئ؟"

ټولو نارې کړې، "د انسان د لاسه، هره ورځ یې توپک راپسې اخیستئ وي، په توپک مو ولي ډېر په عذاب یو."

پدې وخت کې ګيدړه پر را دمخه سوه ويې ويل."زموږ پياوړې مشره ! ما چې مړه کې بيا نو پوست هم را څخه کاږې."
زمري وويل: "دا انسان څنګه شی دئ چې داسې پياوړئ دئ ؟"
ځناورانو ور ته وويل:"داسې جګ نری پر دوو پښو ولاړ په کالو پټ ژوندی شی دئ."

زمري وويل:"عجبه ددې يوه انسان څخه ټول په عذاب ياست اوس به يې زه کار وروکم."
ټول را رهي سول او ښکاري ته راغلل. زمري وويل "څوک يې او دلته څه کار لرې؟"

ښکاري وويل : "زه انسان يم، دلته په لرګو پسې راغلئ يم.
زمری: لرګي څه کوې؟"

ښکاري:" زه ترکاڼ يم د لرګو څخه ښې ښې خوني جوړوم."
زمري د ځانه سره فکر وکئ چې انسان خو وژلای سم، نو لومړی به ځان ته يوه خونه جوړه کم، بيا به يې په ارامه مړ کم.

زمری :"ښه، ته چې ترکاڼ يې ماته به يوه د لرګو خونه جوړه کړې؟"
ښکاري:"خدای دې تا ژوندی لري، پر سترګو! مګر درې ورځې وروسته."
هغه وو چې ښکاري ښار ته راغئ، ډيري اوسپني او د ترکانۍ سامان اسباب لکه ترښځ، رنده، برمه، اره، سکنه او نور يې يو ځای کړل بيرته

ځنګله ته راغئ او په کار يې شروع وکړه. ډېر کلک او ښکلئ کپس يې د اوسپنو او لرګو څخه جوړ کئ. زمري ته يې وويل:" دادئ صاحبه! يوه ښه خونه مي درته جوړه کړه ته په ننوزه چي خوښه دي ده که يه؟"

د زمري تندی ډېر وغوړېدئ نو په تلوار ورننوت. ښکاري دستي د کپس ور پسي پوري کئ، غټ قفل( کولپ ) يې ورواچاوه. زمري چي هرڅه وکړل خو دلاسه يې هيڅ پوره نه سوه، ګيدړي ورته وويل :" څنګه تا خو ويل انسان څه شی دئ د انسان زور دي وليدئ؟"

پړانګ، شرمښ، شکوڼ او کوړ چي دا حال وليدئ نو يې د انسان زور ومانه او په تلوار د ځنګله څخه ولاړل.

## پنځه حسه

انسانان د بدن د پوست په واسطه پوستوالئ، کلکوالئ، سوړوالئ او تودوالئ حسوي چي دغه حس د لامسې د حس په نامه يادېږي.
د پزي په واسته د شيانو بوی حسوو چي دغه حس ته د شامې حس وايي.
د غوږو په واسطه ږغونه او اوازونه اوري چي دغه حس ته سامعې حس وايي.
د سترګو په واسطه شيان وينو چي دغه حس ته د باصرې حس وايي.
د ژبي په واسطه د شيانو خوند ګورو چي دې حس ته د ذايقې حس وايي.

که د کوم انسان ددغو پنځو حواسو د جملې څخه يو يا څو د کاره لوېدلي وي نو هغه انسان معيوب بلل کيږي او دغه ناروغي يې د معيوبيت په نامه يوديږي.

## څو پښتو متلونه

چي اوسې په خوی به د هغو سې.
د يوه لاسه څخه ټک نه خيجي.
خپل عمل دلاري مل.
چي کرې هغه به ربېې.
مه کوه په چا چي و نه سي په تا.

## خـوشـال خـان

کله چي مغلو په هند کي پاچاهي کوله، د ملک شهباز په کور کي يو هلک پيدا شو ، کال ۱۰۲۲ هجري. پر دې هلک يې خوشال نوم کښېښود.
خوشال د کوچنيوالي څخه زړه‌ور او هوښيار وو. کله به چي د پلار سره په مجلس کي ناست وو د مشرانو او خپل پلار خبرو ته به يې ښه غوږ نيوه او په خبرو کي به يې ډېر فکر کاوه.
خوشال خان درې ورونه درلوده. خو تر ټولو ورونو دی هوښيار او پوه وو.
خوشال له کوچنيوالي څخه ډېر زړه‌ور معلومېده.

د خوشال پوهه او هوښياري ورځ په ورځ زياتېده په شل کلنۍ کې يې ډېر کتابونه ولوستل او د زياتې پوهې خاوند سو. په شل کلنۍ کې يې په شعر ويلو شروع وکړه. شعرونه يې د پښتونولۍ د احساساتو ډک دي.



يوه ورځ ملک شهباز خان خوشال ته وويل، خوشاله زويه، که ته د خپل کام په مشرۍ ومنل شې نو څه به وکړې؟

خوشال ورته وويل، تر څو ژوندی يم د کام او اولس د هوساينې او د هيواد د لوړوالي د پاره به خدمت کوم. دا به زما د پاره د خوښۍ ځای وي چې زه خپل اولس ته خدمت وکړای شم.
کله چې خوشال خان د کام د خوا په مشرۍ وټاکل شو د هند پاچا اورنګزېب ورته وويل ستا پلار زما په دربار کې ډېر قدر لرې. خو پام کوه چې پښتانه د مغلو په مقابل کې سر در څخه پورته نه کړي.
خوشال خان دده وخبرې ته غوږ و نه نيوئ او پښتانه يې دمغلو مقابلې ته ودرول.

اورنګزېب چې ددې کاره خبر شو خوشال خان يې بندي کړ او د هند جېل ته يې ولېږه. خوشال خان په هغه جېل کې د غيرته ډک شعرونه وليکل.
خوشال خان د ۷۸ کالو په عمر مړ سو. خو نوم يې تل ژوندی دئ.

د خوشال خان شعرونه خو ډېر دي خو دلته به يې يو شعر ولولئ:

چې ښايست لري په ستورو داسمان ننداره ګوره
ددې خپل وجود په باغ کې په هر شان ننداره ګوره
چې هر ګل وته نظر کړې د باغوان ننداره ګوره
راشه وغوره سترګې د جهان ننداره ګوره

# د انسان غړي

د انسان بدن د ډيرو غړو څخه جوړ سوئ دئ لکه لاس، پښه، سترګه، ژبه، زړه، سږئ، معده، اينه، پښتورګي، کلمې او نور. په دغو غړو کښې يو شمېر د ارادي غړو او يو شمېر د غير ارادي غړو په نامه يادېږي.

ارادي غړي هغه غړيدي چي واک يې د انسان په لاس وي ياني که و غواړي چي حرکت ورکي، حرکت ورکولای سي او د انسان په اراده او اختيار کي وي لکه لاس، پښه، سترګه، ژبه او نور چي هر وخت چي د انسان خوښه وي په حرکت يې راوستلای سي.

غير ارادي غړي هغه غړي دي چي حرکت او درېده يې د انسان په خوښه نه وي او پخپله کار کوي لکه زړه، سږي، معده، پښتورګي، کلمې او نور.

دغه ټوله غړي د دماغ په واسته په کار لوېږي. د مثال په توګه زړه د دماغ په واسته په حرکت راځي. زړه بيا و دماغ ته وينه ورکوي. کله چي دماغ ته وينه ورسيږي نو بيا د دماغ حجرات په هغه باندي ژوندي پاته کيږي او ددې لاري څخه نه يوازي د انسان ارادي او غير ارادي غړي په کار اچوي بلکي د انسان د بدن ټول فعاليتونه کنټرولوي. د دماغ په واسطه پنځه حسه کار کوي، انسان ته د ښو او بدو تر منځ فرق ور ښيي او د ژوندانه ټول فعاليتونه يې ور برابروي.

ددې خبرو څخه داسي معلومېږي چي که دماغ ته د زړه د خوا وينه ورسيږي نو دماغ د ټول بدن پاچا دئ. پخوا خلکو داسي فکر کاوه چي زړه

دئ چي د انسان د بدن ټوله کنټرول يې په لاس کي دئ. ځکه تر اوسه پوري خلک وايي چي زړه مي نه غواړي يا زړه مي راته وايي. حال دا چي دا خبره داسي ده چي دماغ دغه کارونه کوي نه زړه.

## ټوکه

يوه فقير يوه بخيل ته ووېل چي "څه راکړه."

بخيل ورته ووېل: "که ته زما خبره ومنې، نو بيا چي هر څه غواړې زه به يې در کړم."

فقير ووېل: "پر سترګو منم يې. کومه خبره ده؟"

بخيل ووېل: "خبره داده چي هيڅکله له ما څخه څه مه غواړه."

## صفت

صفت هغه کلمه ده چي په جمله کي پر اسم باندي تاثير کوي يا هغه کلمه ده چي د اسم په باره کي څه وايي لکه:

خوږ، جګ، ښه، بد، سور، پورته او نور.

په لاندي جملو کي تر صفت لاندي خط ليکل سوئ دئ و يې لولئ:

دوی يو نوئ موټر لرو.

زه يو سور قلم لرم.

احمد په هغه جګ تعمير کي ژوند کوي.

تا خپل مشر ورور ته تليفون وکړ.
بابا خوږ خټکی خوري.
دوی تازه خواړه خوښوي.

زده کوونکي دي ځلور جملې وليکي چي صفتونه پکښي راغلي وي.

لاندي جملې و لولئ او صفتونه پکښي پيدا کړئ او پر يوه کاغذ يې و ليکئ:

زمرک د خپل ګران پلار سره په سره غرمه د لامبو د پاره ولاړ. هلته يې خپل زوړ ښوونکئ و ليدئ. ښوونکي د ځان سره يو نوئ بايسکل راوستلئ وو. يو چا د ښوونکي چټل بايسکل ور پرېولئ وو.

# دوه لېونيان

دوه لېونيان د دارامجانين د دلاک (سلماني) څخه چي ددوی سر به يې خرايه په عذاب سوه نو په خپل منځ کي يې سلا سره وکړه چي څنګه به ددې دلاک څخه ځانونه خلاص کړي؟

تر لږ چرت وروسته‌دا يوه لېوني هغه بل ته وويل چي ما ته يو ښه چل راغئ او هغه دا چي ته يو غټ مېخ را واخله او زما په سر کي يې ټک

وهه نو هغه وخت چي دلاک زما سر خريي، نو چاړه به يېبې پر مېخ و لګيږي، پخه به سي او موږ به يې له غضبه خلاص سو.

هغه بل لېوني هم ورسره خوښه کړه خو کله چي يې مېخ او چکوش راوړل، او غوښته يې چي د هغه بل لېوني په سر کي مېخ ټک وهي نو لېوني سر ټيټ کړ او د هغه بل لېوني لاس يې ونيوئ.

لومړي لېوني ورته وويل: څه کوې؟

دوهم لېوني ور ته وويل: وېرېږم چي مېخ به در څخه خطا شي او چکوش به زما پر سر ومښلي.

## دوډۍ

ښنګه ښـــه دهقان دئ دا — پټـــي و تـــه روان دئ دا
ځمـــکه کـــي قلبـــه کوي — کـــرل پکـــښي هله کوي
غنـــم چـــي وکـــرلي شي — ورو ورو لـــــويېدلي شي
پسلـــه لـــــويېدو نه ښه — ډک شـــي لـــه دانو نه ښه
بيـــا پـــه پخېـــدلو شي — وخـــت د لـــو کـــولو شي
وخـــت چـــي د ريبلو شي — درمنـــد تـــــه د وړلو شي
راشـــي بـــيا دهقان ورله — راولـــي غوايـــان ور لـــه
ښه چي يـــې ميده کاندي — هله يـــې خـــره کانـــدي

کله چي بيـا بـاد وي ښه — زړه د دهقان ښـاد وي ښـه
پـاک پـه بـادولـو شي — کـور تـه د راوړلـو شي
کار يـې نـه خلاصيږي لا — پـه ژرنـده اوړه کـيږي لا
وګـرزي پـر سر يې پل — تيګي لانـدي دوی شـي دل
هـله کي مـيده شي ښه — ژرنـده کـي اوړه شـي ښه
اوبـو کي يې لانده کاندي — ښـه يـې خمـيره کانـدي
اوړه راشي نـانـوا لره — پـخيږي بيـا هر چـا لره
سره اور کي پخه شي بيا — ښـه ډوډۍ خـوړه شي بيـا
هـله د خـوړلـو شي — وړ د خـرڅـولـو شـي
څه خوږه ډوډۍ يې تـه — ښه ښکلي مـړۍ يـې تـه
خوښـه د هـر چا يې تـه — له هر شـي نـه بالا يې تـه

په تا دئ دسترخوان زموږ
ښکلئ په ښه شان زمـوږ

# وينــه

وينه د ويني د حجراتو او يوې مايع (لکه اوبه) څخه جوړه سوې ده. د ويني اوبو ته پلازما وايي. او حجرات يې د سرو او سپينو کروياتو په نامه ياديږي. دغه کرويات يو د بل سره مښتي نه دي بلکي د ويني په پلازما کي د ماهي په شان لامبو وهي.

د ويني سره کرويات د بدن ټولو حجراتو ته خواړه او اکسيجن وړي او سپين کرويات بيا بدن د مکروبو (ناروغيو) څخه ساتي او د مکروبو (بکټيرياوو) سره جنګ کوي.

# واکسین

واکسین د انسانانو سره مرسته کوي چي د نا روغیو څخه یې و ساتي. لکه دویني په برخه کي چي مو وویل د ویني سپین کرویات د مکروبو سره جنګ کوي او هغه وژني. ډېر ځله داسي پېښېږي چي د انسان په وینه کي په پوره اندازه سپین کرویات نه وي نو انسان ناروغه شي او ډېر ځله د مرګ سره مخامخ سي.

ددې کار د پاره پوهانو دا لار پیدا کړې ده چي د یوې ناروغۍ ډېر زیات مکروبونه را واخلي او د یوې دوا په واسطه یې هغه زهري شیان ځني وباسي او بیا یې د انسان په وینه کي ور پېچکاري کړي. کله چي ویني ته ور ننوزي نو وینه هم ډېر زیات د ویني سپین کرویات ورته را ولیږي چي یو شمېر یې هغه مکروبونه وخوري او یو زیات شمېر یې په وینه کي د یوې معلومي مودې د پاره پاته وي نو کله چي ددغه ناروغۍ اصلي مکروبونه بدن ته ورننوزي نو د منځه یې وړي او انسان د ناروغۍ یا مرګ څخه را ګرزوي. چي دغه بې زهرو مکروبو ته واکسین ویل کیږي.

# رحمان بابا

رحمان بابا په (۱۰٤۲) هجري کي په یوه غریبه کورنۍ کي زېږېدلئ دئ، په قوم مهمند او د پلار نوم یې عبدالستار دئ. دی په (بهادر کلي) کي اوسېدئ. عبدالرحمان په خپله زمانه کي یو صوفي مشربه سړی وو. ډېر شعرونه یې ویلي دي.



د رحمان بابا شعرونه د خلکو ډېر خوښ دي، خلک دده په شعرو باندي پالونه اچوي. رحمان بابا په (۱۱۱۸) هجري کي مړ سوئ دئ.

رحمان بابا د دنیا کارونه نه کول. دی به تر یوې وني لاندي ناست وو او شعرونه به یې ویل چي د هغه کلي خلک تر اوسه پوري هغې وني ته د قدر په سترګه ګوري.

د رحمان بابا شعرونه ډېر ساده او اسانه دي. اخلاقي، ديني، اجتماعي او تصوفي شعرونه يې ويلي دي. دده د شعرو کتاب د ټولو پښتنو خوښ دئ او په لوړه سترګه ورته ګوري. د ده د شعر نمونه په لاندي ډول ده:

چي مدام د بل و عيبو ته نظر کړي
خداى د خپله عيبه ولي بې خبر کړي
که يوه جودانه عيب ويني په بل کښي
هغه يو جودانه عيب به يې لوى غر کړي
که دي خپله ګناه لويه لکه غر وي
په حيله حيله به غر د مچ وزر کړي
که څوک تله د انصاف په لاس کښي در کړي
خپل ټټو او د بل اس به برابر کړي
تو لعنت دي په دا هسي منصفي شه
چي د حقه و باطل و ته ګذر کړي
تا ته رب د ملايکو مقام در کړ
تا دا خپل صورت پخپله ګاو و خر کړ
که دي يو وېښته د ځان د پاسه کوږ شي
ځان هغه ساعت له خدايه مرور کړي
د ځوانۍ عمر دي تېر کړ په غفلت کښي
په پيري کي به څه زېرمه د محشر کړې
په پيري کښي د ځوانۍ چاري نه ښايي
ته په ورځ د عاشورې به څه اختر کړې
لکه ببخ د زړې ونې چينجي وخوري
په دا تېر عمر به څه ښاخ و ثمر کړې

دغــه بــاغ بـه دي خلاص نه شي له خزانـــه
کـه چاپـېر ور ځني ســـد د سکندر کـــړې
و بــد خواوو تــه هيڅ څوک نصيحت نـــه کا
رحمان ستا په غم شريک دئ که بـــاور کړې

# مېلمه پالنه

پښتانه د مېلمه سره ډېره مينه لري. هر پښتون د ماښام خواړه د مېلمه سره شريکوي. د پښتنو پونده که نارينه په کور کښې نه وي نو ښځې د مېلمه عزت کوي، له ځان څخه يې سپموي او مېلمه ته يې ور کوي. په هر کلي کې د مېلمنو د پاره جلا کوټې وي، چې ماښام له هره کوره څخه خداى او وس که غنمينه وي که اوربشينه د مېلمه څخه يې نه سپموي. د پښتنو کوټې هيڅ وخت د مېلمنو څخه خالي نه وي.

د خطر او جنګ په وخت کې هر پښتون د مېلمانه څخه د خپل وس سپما نه کوي او په ښه ډول يې تر خپله علاقه باسي . که پوروړئ يې کور ته راسي نو د روپو خاوند تر درو ورځو پوري هغه ته د پور رږغ نه کوي. که مېلمه نا روغه سي نو د خپل وس په اندازه دارو درمل ور کوي.

# مېلمه پالنه په پښتنو کښې

کــه پښتــون شي ګـــداګر د کل جهان
ږغ يـــې تـــللئ د ډوډۍ دئ تـــر يونان
هســـي ښـــه مهمان نـــوازه خلک نشته
لـــکه خدای چـــي پيدا کړئ دئ افغان
که بهر درته زمری شي خو په کور کښې
لـــه ادبـــه ځان مريې کړي تـــا بـــه خان
د هر چـا ځـای ته چي ورسې بې تکليفه
کټ پـــوزي درتـــه تيـــار وي اش و نان

(مير احمد شاه رضواني)

# غـــزل

که تـــه نه کړې په بل چا باندي غرض
بـل بـــــه نه کاندي په تا باندي غرض
کـــه ګدا د چا په غولي غرض نه کړي
سپي به نه کړي په ګدا بـــاندي غرض
پـــــه ساحل کښتۍ د هيچا نه ډوبيږي
کـه څوک نـــه کا په دريا باندي غرض
خلوتيان پخپل خلوت کښې فراغت دي
د رسوا وي پـــه رسوا بـــاندي غـــرض

زه (رحمان) د عشق په درد کښې هسې خوښ یم
چې مې نـــه شتـــه پـــه دوا بـــانـــدې غرض

# دماغ

د انسان دماغ د نورو حیواناتو تر دماغ لوی دئ. دماغونه دوه دي چې یو یې لوی دماغ او بل یې کوچنی دماغ دئ.

د لوی دماغ کار دا دئ چې انسان په هغه سره فکر کوي او ددې دماغ په واسطه د بدن پنځه حواسه لکه د لامسې حس (هغه حس چې ګرمي، ساړه، پوستوالی، کلک والی په معلوموو)، د شامې حس( د بویولو حس) ، د باصرې حس( د لیدلو حس)، د ذایقې حس(د خوند حس)، د سامعې حس (د اورېدو حس) او ارادي حرکتو کنټرولوي. خبر و لوی دماغ ته ورځي او بیا لوی دماغ پوهیږي چې څه خبره ده، نو بیا د بدن و غړو ته خبر ورکوي چې عکس العمل ښکاره کي. پدې دماغ کي د هغه شیانو حافظه ساتل کیږي کوم چې موږ ورسره مخامخ سوي یو.

د کوچني دماغ کار دادئ چې د بدن ټولي غیر ارادي غړو حرکتونه تر کنترول لاندي راولي. د مثال په ډول لکه د زړه، سږو، پښتورګو او نورو غړو حرکتونه چې حرکت یې زموږ په کنترول کي نه وي. دغه غړي پخپله حرکت کوي بېله دې څخه چې موږ فکر پکښې وکړو.

# پښتو لنډۍ

په پښتو ژبه کي يو ډول شعرونه سته چي شاعر يې نه دئ معلوم. زياتره يې د ښځو د خوا څخه د نارينو د پاره ويلي سوي دي. لنډۍ په مختلفو حالتو کي ويلي سوي دي لکه د پسرلي په وخت کي، د مسافرۍ په وخت کي، د عشق د پاره او نوري. دلته به يې تاسي يو څو نمونې ولولئ:

تــل پـــــه زحمت پسې راحت دئ
چا چي زحمت ليـــدلئ وي راحت بـــه ورېنه
پـــــه دنيا مـــه نــــازېږئ خلکو
دنيـــا فانـــي ده پـــه ارمــــان به ځني ځونه
پـــه نـــسب څوک نـــه سړی کيږي
ســـړی هغه دئ چـــي يې خوی د سړو وينه
د ســر دښمن مــي هوښيار ښه دئ
زه د بې عقل پــــه دوستـــي ستومانه يمه

# څلوريځي

چي سپين او سره يې په کور کي تل وي
چي نه يې علم نه يې عمل وي
بنياد يې نشته اخر به خوار شي
بخت به تر کومه ور سره مل وي

(عبدالقادر خټک)

# ګيدړه او لېوه

يوه ګيدړه په يوه ژور ځا کي و لوېده، هرڅومره چي يې زيار وکيښ و يې نه شواى کړاى چي له ځا څخه را و وزي،نو په چغو او نارو يې پيل وکړ. نارې سورې يې يوه لېوه واورېدې او په منډه د ځا غاړې ته ورغئ. ګوري چي په ځا کي يوه ګيدړه لوېدلې او نژدې ده چي پکښې مړه سي. خو لېوه د دې پر ځاى چي ګيدړه د ځا څخه را و باسي په داسي خبرو يې پيل وکړ:

" زه چي تا په دې ژور ځا کي وينم په رېښتيا سره ډېر خواشينى يم. خو نه پوهېږم چي ته چا په دې ځا کي غورځولې يې. څو ورځي کيږي چي ته پدې کوهي کي پرته يې؟ ايا ساړه دي نه کيږي؟ ايا دا ځا ژور دئ؟ ژر جواب راکړه چي زيات خواشينئ شوم."

ګيدړي ورته وويل: لومړی ما له مرګه خلاصه کړه او بيا چي هر چه سوال کوې کوه يې. ځکه اوس د خبرو او بحث وخت نه دئ. هره خبره ځای لري.

## ښه خوی

| | |
|---|---|
| په خويونو کي ډېر فرق دئ | که سړی پرې خبردار شي |
| ځيني هسي خوی اغاز کا | چي خپل هم ځني بېزار شي |
| ځيني هسي خوی اغاز کا | چي پردي يې خدمتګار شي |
| که څوک خپل خصلت د ښو کا | تر سرو زرو به رويدار شي |

(خوشال ختېک)

## څلور خواوي

څلور خواوي عربي او پښتو نومونه لري چي په لاندي ډول دي:

| عربي | پښتو |
|---|---|
| شرق (مشرق) | ختيځ |
| غرب (مغرب) | لوېديځ |
| شمال | د مړو خوا |
| لوېديځ | سهيل |

شمال ته يې په افغانستان کي د مړو خوا ځکه ويل چي کله به يې مړی ښخاوه نو سر به يې د شمال و خوا ته کاوه. چي دا کار په هر هيواد کښي سم نه دئ.

د څلورو خواوو پيدا کول:

لومړی به وګورو چي لمر د کومي خوا را خيجي، هغ خواته به ښی (راسته لاس) کړو. بيا به نو داسي و وايو:

د ښي (راسته لاس) و خوا ته شرق (ختيځ) دئ، د کيڼ (چپه لاس) و خوا ته مو غرب (لوېديځ) دئ. مخ ته مو شمال او د شا و خوا ته مو جنوب (سهيل) دئ.

# د افغانستان جغرافيه

زموږ ګران هيواد افغانستان د اسيا په براعظم (لويه وچه) کي پروت دئ او يو غرنی مملکت دئ چي د بحر سره نه دئ موښتئ.

د افغانستان ګاونډي هيوادونه:

د شمال و خوا ته يې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان هيوادونه پراته دي. د غرب و خوا ته يې ايران د جنوب او شرق و خوا ته يې د پاکستان هيواد پروت دئ او د شرق د خوا څخه د پامير په لوړو څوکو کي د چين سره يو څو کيلو متره سرحد لري.

## د افغانستان ښارونه:

۱ـ کابل
۲ـ کندهار
۳ـ بلخ
۴ـ هرات
۵ـ ننګرهار
۶ـ پکتیا
۷ـ وردک
۸ـ زابل
۹ـ بامیان
۱۰ـ روزګان
۱۱ـ فراه
۱۲ـ کاپیسا
۱۳ـ غور
۱۴ـ جوزجان
۱۵ـ کندز
۱۶ـ تخار



۱۷ـ لوګر
۱۸ـ هلمند
۱۹ـ لغمان
۲۰ـ پروان
۲۱ـ نیمروز
۲۲ـ بدخشان
۲۳ـ سمنګان
۲٤ـ بادغیس
۲۵ـ بغلان
۲٦ـ فاریاب
۲۷ـ غزنی
۲۸ـ کنړونه
۲۹ـ پکتیکا

## د افغانستان غرونه:

افغانستان یو غرنی هیواد دئ او ډېر زیات غرونه لري چي دلته یې یو څو مشهور غرونه لولو:

### ۱ - د هندو کش غر:

د هندوکش د غرو سلسله د پامیر څخه چي د نړۍ بام یې بولي شروع کیږي د هیواد د غرب و خوا ته غزېدلي دي او خورا جګ غرونه دي چي ډیري واوري پر پرتې وي او د هیواد ډېر رودونه د دې غره څخه سر چینه اخلي.

### ۲ـ د بابا غر:

دا غر د هندوکش د غرو د سلسلې څخه دئ چي د غرب و خوا ته غزېدلئ دئ. جګوالی یې د هندوکش د غرو په نسبت لږ دئ او د هلمند رود سرچینه ځني اخلي.

### ۳ – سفید کوه:

د بابا د غره د مغرب څخه شروع کیږي او د هرات تر شمال غرب پوري رسیږي.

### ٤ - سیاه کوه:

د بابا د غره څخه شروع کیږي او د هرات تر جنوب غرب پوري رسیږي.



۵- سپین غر:

دا غر د افغانستان په‌شرق یاني په ننګرهار کي پروت دئ، ډېره واوره پر کیږي او ځنګلونه یې مشهور دي.

## د افغانستان رودونه (سیندونه):

۱- د امو سیند:

دا سیند د پامیر څخه را وزي او تر یوه ځایه پوري د افغانستان، ازبکستان او تاجکستان د هیوادو تر منځ سرحد جوړوي د ارال په بحیره کي توییږي.

۲- د هلمند سیند:

دا رود د بابا د غره څخه راوزي او پسله دې څخه چي د هلمند په ولایت کي په زرو جریبه مځکه اوبه کړي د ارغنداب رود ور سره ګډیږي او بیا د سیستان په جهیل کي توییږي.

۳- د کابل سیند:

دا سیند د پغمان د غره څخه راوزي او د غرب له خوا د کابل ښار ته ننوزي. دا رود د اټک په رود ګډیږي.




۴ – د ارغنداو رود :

دا سیند هم د افغانستان د منځني غرو څخه را وزي او وروسته له دې چي د کندهار په ولایت کي په زرو جریبه مځکه اوبه کړي د هلمند په رود ګډیږي.

## افغانستان نور رودونه ( سیندونه ) هم لري لکه :

هري رود

فراه رود

خاش رود

د مرغاب رود

او نور.

## د افغانستان اب و هوا:

زموږ د ګران هیواد اب او هوا نه ډېره توده او نه ډېره یخه ( سړه ) ده. دا چي زموږ هیواد ډېر غرونه لري نو هوا یې په لوړو ځایو کي یخه لکه کابل او غزنی. او په کښتنو ځایو کي یې هوا توده ده لکه کندهار او جلال اباد.

## د افغانستان حاصلات:

په افغانستان کي ډول ډول غلې لکه غنم، اوبشي، جواري، ورجي، نخود، باغلي او نور. همدا ډول راز راز مېوې لري لکه انار، انګور، زردالو، هندوانې، خټکي، الو بالو، شفتالو، توت، منې ( سیب )، بادام، جنغوزي، پسته او داسي نور.

سابه یې لکه پالک ( سبزي )، ګندنه، پیاز، ملی، هوږه، شلغم، شبید ( شوید )، کرم، ګلپي، پټاټې ( کچالو )، ګازري ( زردکي )، کدو، کاهو، توری، او داسي نور دي.

جغندر (لبلبو) هم سته چي د هغو څخه بوره جوړوي. پنبه هم ډېر لري چي د هغه څخه د نساجي په فابريکو ټوکر جوړوي.

## معدنونه يې لکه:

سره زر، سپين زر، مس، اوسپنه، سرب، د ډبرو سکاره، پترول، مالگه، گچ، ياقوت، لاجورد، زمرد، **لعل** او داسي نور.

# اريايان

د اريايانو د اصلي ټاټوبي په هکله پوهان مختلف نظرونه لري خو زياتره پوهان وايي چي د اريايانو د اوسېدو ځای د اوسني افغانستان په شمال کي د امو د رود سرچينې وې. دغه خلکو په دغه منطقه کي ژوند کاوه چي دوی په خپله ژبه دغه ځاي د اريانا وېجه په نامه باله.

دوی زياتره په کښت او کرنه اخته وه. دوی کښت کوونکي خلک د اصيلو خلکو په نامه بلل. دوی ځانونه اصيل او نجيب بلل ځکه کښت يې کاوه. دوی ځيني بوټي پېژندل.

پوهان داسي نظر لري چي د هوا د سړېدو له کبله به دوی دغه اريانا‌وېجه پرې ايښې وي. دومره معلومېږي چي اريايانو پر درو لورو مهاجرت کړئ دئ. يوه ډله يې د اوسني ايران و خواته، بله ډله يې د هند

وخوا ته او يوه ډله يې د بخدي (بلخ) په شاوخوا کي مشته شوي دي.

دوی د ۳۰۰۰ کاله تر ميلاد د مخه په يوه ژبه خبري کولې چي (اريک) نومېده. دا ژبه اوس نه سته خو پوهان دومره وايي چي پښتو د دې ژبي لور ده.

په افغانستان کي د اريايانو لومړنی پاچا د (يما) په نامه يادېدئ.

# د افغانستان تاريخ ته يوه لنډه کتنه

افغانستان ډېر زوړ تاريخ لري. د ډيرو پخوا زمانو څخه د بېګانه‌وو د پاره د دلچسپۍ وړ ګرزېدلئ دئ او هروخت يې پر دې خاوره حملې کړې دي. دلته به يې په ډېر لنډ ډول يوه کوچنۍ برخه و لولو.

سکندر مکدوني د ۳۳۳ – ۳۲۷ د حضرت عيسی (ع) تر ميلاد دمخه:

د عربانو تسلط د اوومي ميلادي پېړۍ په اوله نيمايي کي:

چنګېز ۱۲۲۱ ميلادي:

ميرويس خان ۱۷۰۹ميلادي:

د احمد شاه بابا د لويي پاچاهۍ جوړول ۱۷۷۲ ميلادي:

د هند مغلي دولت ۱۸۰۳ میلادي:

د افغان او انګلیس لومړی جنګ ۱۸۳۸ ـ ۱۸٤۲ میلادي:

د افغان او انګلیس دوهم جنګ ۱۸۷۸ میلادي:

د امیر عبدالرحمن د حکومت جوړول ۱۸۸۰ میلادي:

د ډیورینډ د خط قرارداد ۱۸۹۳ میلادي:

د امیر حبیب‌الله خان پاچاهي ۱۹۰۱ میلادي:

د امیر امان‌الله خان پاچاهي ۱۹۱۹ میلادي:

د افغان او انګلیس دریم جنګ ۱۹۱۹ میلادي:

د لویي جرګې جوړول او د اساسي قانون تصویب ۱۹۲۸ میلادي:

د سقاو د زوی حمله ۱۹۲۸ میلادي:

د نادر خان پاچاهي ۱۹۲۹ میلادي:

د ظاهر خان پاچاهي ۱۹۳۳ میلادي:

د داود خان لومړی جمهوریت ۱۹۷۳ میلادي:

د نور محمد ترکي د رهبرۍ دوره ۱۹۷۸ میلادي:

د حفیظ الله امین دوره د سیپتمبر ۱٦ نېټه ۱۹۷۹ میلادي:

د نور محمد ترکي د مرګ خبر ورکول ۱۰ د اوکتوبر ۱۹۷۹ میلادي:

د ببرک کارمل خبري د تاشکند د راډیو له لاري د انقلابي شورا د ریس په توګه او د شوروي اتحاد د عسکرو ننوتل و افغانستان ته ۲۷ د ډیسمبر ۱۹۷۹ میلادي کال:

د ډاکتر نجیب انتخابېدل د ګوند د رهبر او انقلابي شورا د ریس په توګه ۱۹۸٦ میلادي کال:

د ډاکتر نجیب د دولت د منځه تلل او د مجاهدینو منځ ته راتلل چي د لومړي ځل د پاره يې صبغت الله مجددي د دولت د ریس په توګه انتخاب کړ ۱۹۹۲ میلادي:
د برهان الدین رباني انتخابول د دولت د ریس په توګه ۳۰ د ډیسمبر د ۱۹۹۲ میلادي:

د ملا محمد عمر (طالبانو) منځ ته راتلل ۱۹۹٦ میلادي:

د طالبانو د منځه تلل د امریکایانو د حملې او بمباري په واسطه او د حامد کرزي منځ ته راتلل د افغانستان د موقتي دولت د ریس په توګه اوکتوبر ۲۰۰۱ میلادي:

# جهل

مړه يې پاڅول له ګوره — نــا بينا يې کړل بينا
يو نادان يې دانا نکړ — پــه خپل عمر مسيحا
نادان ځان لره بلا دئ — هــم جـــهان لره بلا

(خوشال خان)

# مېږه او لېوه

يوه توره مېږه وه، يوه ورځ يې سر کښته اچولئ وو په خپل څر لګيا وه. کله چي يې سر را پورته کړ ګوري چي له رمې او شپانه څخه ډېره ليري پاته سوې ده. په دغه وخت کي يو وږئ لېوه د مېږې خوا ته را روان دئ او سترګي يې داسي ښکاره کېدلې لکه د سرو وينو ډک جامونه، د لېوه په ليدلو سره مېږې وويل: سه سه سلام عليکم، لېوه خپل غاښونه وچيچل، په ډېر غرور يې وويل : سلام، خپلي خبري يې داسي پيل کړې:

دلته څه کوې؟ خبره نه يې چي دغه ملک يا سيمه ماته د نيکه څخه په ميراث کي را پاته ده؟

دا چي ته دلته بې پوښتني راغلې يې نو زه به دي هم وخرم.

مېرہ پوه سوه چي له سختي ستونزي یا مرگ سره مخ سوه نو خیال او فکر یې وکړ چي داسي څه وکړي چي له مرگ څخه ځان و ژغوري. تر ډېر غور وروسته یې لېوه ته وویل:

رښتیا خبره داده چي زما باور نه راځي چي دغه سیمه به تا ته د خپل نیکه نیکه څخه په میراث در پاته سوې وي. د دې د پاره چي زما باور راسي نو ښه به دا وي چي له ما سره زیارت ته ولاړ سې. کله چي دي پر زیارت لاس کېښېښود نو خبره به سپینه سي چي دغه سیمه ستاسو ده یاني په زیارت به لوړه وکړې.

لېوه گومان وکړ چي مېږ خو ډېره ناپوهه ده نو پرېکړه یې وکړه چي څه ور سره ولاړ به سم بیا به یې تر هغه وروسته وخورم. د زیارت پر لور روان سول، لېوه او مېږ هغه ځای ته و رسېدل چي هلته د رمې سپی ویده وو.

مېږي لېوه ته وویل: لېوه وروره! زیارت دلته دئ، اوس نو کولای سې چي لوړه وکړې چي دغه سیمه ستا د نیکه ده. کله چي لېوه لاس پر ونه کښېښود چي قسم وکړي، نو سمدستي سپی د خوبه راویښ سو، ورو ورو لېوه تر ور نیژدې سو غوټه یې باندي ووهله لېوه یې تر ستوني ونیوئ او مېږه د مرگ څخه و ژغورل سوه.

# د ژبي اهميت

په هر دم پــه هر زمــان په كار ده ژبه
د هـــمه واړه جهان پـــه كار ده ژبـــه
نــا اشنـــا اشنـــا كــوي ســره خبـــري
پــه خـــبرو نـــژدې كـــيږي خـــلک ليري
د تـــورزن پـــه كار نـــه وي هومره توره
لـــکه ژبـه چي هر ځاى كښي وي منظوره
كـــه كاتـــب دئ كـــه كاغـــذ دئ كه قلم
ټـول د ژبـــي خـــدمتـګار دي دم په دم
پــه مرغـــانــو كـــي تـــوتي دئ عزت‌مند
دا پـــه دا چي ښې خبري كړي د خونـــد
مګر دوه شرطه په ژبه كښي په ضرور دي
دغه دواړه ضروري پـــه ښه دستـــور دي
اول دا چـــي ښـــې صـــحيح كـــوي خبري
چـــي خبـــري شـــي پـــه مثـــل مرغلري
بل پــه بدو دي خوله نــه خوځــوي خپله
تـــل دي ســم پـــه انـــدازه وي لـــکه تله
بـــده ژبـــه د سړي پـــه ځان بـــلا شـــي
خـــوږه ژبـــه د ســـړي چـــاپېـــر قـــلا شي
هر سړى د سړي توب دعوې چي كانـــدي
ځـــان دي پوه كاندي په ډېرو ژبو بانـــدي
پـــه يـــوه ژبـــه مطلب نـــه پـــوره كيږي
كـــــه هوښيار وي هم له سره نـــه پوهيږي

کــه حاکـــم وي غور هيڅ نه شــي کولی
کـــه عالـــم وي طالب نــه شي پـوهولی
پـــه سفـــر کنبي لکه نـقش د دېـــوال
ګـنګ ولاړوي بــې طاقتــه بـــې مجال
خوصـوصا چــي پښتــو ژبــي تــه حاجت
پېښ شـــي ډېر زياتي له حــده دا ساعت
(احمد) وکړ پـــه دا شـــان اسـان کلام
چي پــوهيږي پرې کل واړه خـاص و عام

(پښتو ګنج)

# دوه ملګري او تبر

دوه نفره پر لار روان وه، و يوه کښت ته ورسېده. نا څاپه د دوی د جملې څخه يوه نفر په کښت کي يو تبر پيدا کړ، هغه يې ژر را واخيست او و يې ويل چي: راړئ تبر مي پيدا کړ. هغه بل ملګري يې وويل: داسي مه وايه چي تبر مي پيدا کړ. هغه بل ملګري قبوله نه کړه او بيا يې وويل چي تبر مي پيدا کړ. پدې وخت کي د کښت د بزګر ور ته فکر سو او ورته ويې ويل چي دا تبر خو زما دئ، را يې کئ که نه پوليسو ته عرض کوم.

د تبر پيداکوونکي خپل ملګري ته وويل چي: څرنګه بد کار و سو چي د دې جنجالي په لاس ورغلو.

ملګري يې ور ته وويل چي: اوس هم مه وايه چي د بزګر په جنجال کي و لوېدو. بلکي ووايه چي د بزګر په جنجال کي ولوېدم ځکه د تبر د پيدا کېدو په وخت کي دي زه نه در سره شمېرلم نو اوس مي هم مه شمېره.

کله چي يې د تبر مالک ته تبر تسليم کړ نو ډېره بخښنه يې ځني و غوښتل.

# لويوالی

شپه او ورځ ور پسي ګرزي هـــــر انسان
دې مــقصد تـــه رسېده نــــه دي اسان
بــداياتـــو پيدا نه کړ په ډېر مال کښي
تش لاسونه بيرتـــه راغـــله تـــاجـــران
پــــه يـــوازي علـــم کلـــه حاصليږي!
مـــا ليـــدلي د ډېـــــر علم خاوندان
هسي وايي چي قوت او زور مونـــده شي
پــــه غـــلطه لاره تـــللي ظـــالمان
چي په تش کمال او فن بـاندي يې غواړي
پــــه رښتيـــا چي غـــــولېدلي دا کسان
پــــه رتــبه يـــا نسب کله ځوک لوييږي
لــــويـــوالــه مــــه ګڼه هومره ډېر ارزان
بـــې د قـــام خـــدمت نــه بله لاره نشته
پـدې لاره کښي يې مـــومي هـــوښياران

کــه قـــوت لـــرې که علم که دولت دئ
که دا ټول کړې په همدې ځای کښي قربان
نــو بـــه هلـــه ستا په برخه شي لويوالی
پـــدې شرط که درنه ورک نشي خپل ځان

(ګل پاچا الفت)

# ملګري ملتونه

که د انسان و تاريخ ته و ګورو دا به راته ښکاره سي چي انسان د ډېرو خطرونو سره مخامخ دئ. دا خطرونه لکه طوفانونه، سېلابونه، (سېلونه)، زلزلې، بادونه، وحشي حيوانات (ژيوي)، وچکالي، ناروغۍ او په زياته بيا د انسان په تاريخ کي د انسان لوی دښمن بل انسان دئ چي د خپلو ښې ځايو غوښتنو په خاطر يې د نورو انسانانو ژوند په خطر کي اچولئ دئ او په مليونو نور انسانان يې د منځه وړي دي.

انسانو د تاريخ په اوږدو کي ډېر جنګونه کړي دي چي تر ټولو لوی جنګونه يې دوه نړۍ وال (عمومي) جنګونه دي.

## لومړی نړیوال جنګ:

لومړی نړیوال جنګ چي په ۱۹۱٤ عیسوي کال کي پیل سو او د نړۍ ډېر هیوادو ګډون پکښي درلود. دا جنګ په ۱۹۱۹ عیسوي کال کي په داسي حال کي چي د جون د میاشتي پر ۲۸ نېټه د سویس د هیواد په پایتخت (ژینیو) کي د امضاوو د کولو په سره ختم سو.

د دغه جنګ په وخت کي د افغانستان پاچا امیر حبیب‌الله خان وو، که څه هم د ده څخه غوښتنه و سوه چي په جنګ کي ګډون وکړي مګر امیر حبیب‌الله خان د خپل پلار امیر عبدالرحمن خان د بې طرفۍ د سیاست د ساتلو خبره په غوږ کي وه او په جنګ کي یې ګډون و نه کړ.

د دغه جنګ په جریان کي د ټولو هیوادو خلک په دې و پوهېدل چي جنګ بې مانا او د ټولو هیوادو په تاوان دئ. که څه هم د دوی حکومتو داسي ویل چي دغه جنګ او مرګونه د ازادۍ د پاره دي.

په دغه وخت کي د امریکا د وخت جمهور ریس (ویلسن) پدې برخه کي یو لوی ګام واخیست او د ملتو اتحادیه یې جوړه کړه چي دفتر یې په (ژینیو) کي وو. تراوسه پوري د اوسني ملګرو ملتو ځني برخي په ژینیو کي دي.

که څه هم په دغه اتحادیه کي د سولي د منځ ته راتلو او د اسلحې دمنځه وړلو قراردادونه لاس لیک سوه خو بیا هم دغو قراردادو ته چا و نه کتل، نه چا سوله منځ ته راوسته، نه چا اسلحې د منځه یوړې. که څه هم د

اتحاديې د منځته راوړل د امريکا د جمهور ريس مفکوره وه بيا هم امريکا پر هغه قرارداد و نه دريده او شل کاله وروسته تر دې دوهم نړيوال جنګ پيل سو.

## دوهم نړيوال جنګ:

په ۱۹۳۹ کال کي يو نوی نړيوال جنګ پيل سو چي نيژدې د نړۍ ټول هيوادونو ګډون پکښي درلود. دا جنګ د تمدون په زړه يانې اروپا کي د ميليونونو انسانانو ژوندونه په‌خطر کي واچول. د ۱۹٤٥ کال د اګست پر شپږمه نېټه امريکايي الوتکو د جاپان پر هيروشيما او ناګاسا باندي د اټوم بمونه واچول چي دا جنګ په ۱۹٤٥ کال کي پای ته ورسېد.

د دوهم نړيوال جنګ د پای ته رسېدو سره يو ځای داسي فکرونه را پورته سوه چي يو نوی سازمان بايد منځ ته راسي چي د نړۍ هيوادونه به يو د بله سره نژدې سي.

## د ملګرو ملتو منځته راتلل:

د ۱۹٤٥ کال د جون د مياشتي پر ۲٦ نېټه د يو پنځوسو هيوادو نماينده ګانو د امريکا د هيواد د سانفرانسيسکو په ايالت کي د ملګرو ملتو اساسنامه لاسليک کړه چي څلور مياشتي وروسته دغه اساسنامه په عملي توګه په کار ولوېده، چي دغه ورځ د اوکتوبر ۲٤ نېټه وه، او هر کال دغه ورځ لمانځل کيږي. دفتر يې په نيويارک کي دئ.

دغه اساسنامه د ملګرو ملتو اساسي قانون دئ چي ۱۱۱ فصلونه یا قانونو نه لري. دغه قانونونه د ملګرو ملتو هدف ښکاره کوي، په لاندي ډول چي:

- انسانان د جنګ د مشکلاتو څخه وساتي.
- د ښځو او نرو، د کوچنیو او لویو ملتو د انساني حقوقو څخه دفاع وکړي.
- بې طرفانه کار وکړي او بین المللي حقوق و ساتي.
- د ټولنیز پرمختګ او د ژوندانه د لا ښه شرایطو او زیاتي ازادۍ د پاره کار وکړي.

# چي ګټهل خوړل بخښل کا ځوان هغه

چـــي ګټهـــــل خـــوړل بـــخښل کا ځوان هغه
چـــي تـــوره لـــري د تـــوري خـــــان هغه
کــــان د لعـــل، د یــاقوت، د ګوهر څه دئ
چـــي احســـان تـــرې پـــیدا کیږي کان هغه
چـــي یې تـــه پـــه ګېډه و خـــورې حبطه شي
چـــي مجلس ســـره خـــــواړه شي خوان هغه
کـــه د مــــال دئ کـــــه د ملک دئ که لیچو
چـــي تـــوان د چـــا پـــه کار شي توان هغه
په تمامه شپه، په ورځ، په میاشتي ، کال کښي
چـــي د خـــدای پـــه یــــاد ور درومي ان هغه
چي دي څوک د وړاندي وروسته ځي دا څه شي
پـــه تـــنها وجـــود چي شــــان دئ شان هغه

و نور چاو ته وران مه وایه خوشاله
چي په قول عهد روان شو وران هغه

## د پښتنو جرګه

کله چي په ۱۱٦۰ هجري کال کي د کندهار د شیر سرخ بابا په زیارت کي یوه لو جرګه جوړه سوه او احمد شاه بابا یې په پاچاهي و ټاکه نو دغه نظم د هغې جرګې حال بیانوي:

ارغنداو د غرو لمني — د غاټول په ګلو سرې شوې
د دامان هوسۍ دي مستي — زرغونې ورته درې شوې
د باغو وني ویښیږي — د بلبلو پرې نارې شوې
اسمان مڅکه ټوله خاندي — نوې نوې ننداره ده
وه دا څه نوئ ژوندون دئ، دا نسیم راغئ له کمه؟
چي یې نوې روح وطن ته، و باخښه له خپل قدمه
ته وا جوړ ملي اختر دئ — نجونو سره کړله لاسونه
په ملالو غاړو زانګي — د روپو سپین امېلونه
لور په لور یې خپاره کړي — پر تندي تور اوربلونه
له کړدیو راوتلي — پر دښتو کړي اتڼونه
زلمیان هم توپک په غاړه، پښتني ترانې وایي
په ملي جوش او خروش ټول ننګیالي پلرونه ستایي
ارغنداو د رود پر غاړه — نن بل رنګه تماشا ده
غم، ژړا ورک دي له منځه — د هر چا خوله په خندا ده

دا جنت د دې جهان دئ　　که هغه اراکوزیا ده
پرون څنګه وه نن څنګه ؟　　په حیرت ور ته دنیا ده

د افغان د ونې څانګې، تر دې ځایه دې راغلې
د ارین ښکلي ګلونه، نن دې خوا ته غوړېدلې

پښتانه شول لاس تر غاړه　　په جار جار سره ږغیږي
زړو نې پاک دي له نفاقه　　یو تر بل سره جاریږي
مشر مشر کشر کشر　　هر یو خپل پر ځای درېږي
په یوه ږغ له وطنه　　لوی او کم ټول قربانیږي

لاس په لاس زلمي را غونډ دي، د پښتون تر بیرغ لاندي
زړونې ډک د خوشالیه، یو له بله سره خاندي

د میرویس د قبر خوا ته　　د سپین ږیرو مجلسونه
په ادب او احترام ټول　　وایي دا د نیکه ګور دئ
چې وطن ساتلئ سوئ　　ددې ستر نیکه په زور دئ
په نغریو کې را پاته　　لا تر اوسه د ده اور دئ

په مړانه یې له ظلمه، د غلیم ګرده خوندي شوو
نژدې شوي وو و مرګ ته، خو په روح د ده ژوندي شوو

په خطاب وایي میرویس ته　　سر را پورته که ښاغلې
بیا دوره د نوي ژوند ده　　پر پښتون باندي راغلې
جهالت توره پرده مو　　د هیواد له مخي تللې
د ملي ژوندون ورمه ده　　په وطن کې چلېدلې

بیا به ستا نوم را ژوندی کړو، ته حساب نه یې په مړو کي
د مړاني نوم به تل ستا، پښتانه ساتي په زړو کي

قدرت غواړي چي بیا ویښ شو　　وایي څو تر څو بیده یاست
خپل جلال عظمت مو هېر دئ　　څه د بل په ننداره یاست
بس د نورو خولو ته ګورئ　　په تقلید لکه کاڼه یاست

فـــکر بـــویـــه اخـــر تـــاسي      هـــم زامـــن د پښتانه یاست
مـــوږ یـــې ټـــول ویښ کړو له خوبه، د قدرت دغه اواز دئ
مـــتصل لـــه دې اوازه، د پـــښتون د ژوند اغـــاز دئ
خـــو چي دا یو ستا مزار تـــه...      پـــه امـــید امـــید راغـلي
لـه کورو څخه لـوی و کم ټول      پـــه عـــالي مـــقصد وتـلي
چـــي مـلي قاید پیدا کـړو      پـــه همـــت را پـــاڅـېدلي
ستـــا لـــه روحه مرسته غواړو      چـــي ســـر لوړي سو ښاغلي
مشـــران مـــو هلته غـــونډ دي، شیر سرخ بابا زیارت کي
چـــي ســـلا مشـــوره وکـــړي، پښتنو پـــه قیادت کي

## غزل

هر څـــه شوي پـــــه ازل وي نور به نشي
چي یې برخه د پیـــاده ده سور بـــه نشي
کـــه پـــه سل رنګه تـــدبیر احتیاط وکا
هغه شـپه چي یې د ګور وي کور به نشي
پـــــه لباس د بـېګانـــه وو غلط مه شه
چي له مـــور و پلاره نه وي ورور به نشي
ذاتي تـــور زړونـــه پـــه وعظ نه سپینیږي
هغه زړه چي خدای سپین کړئ تور به نشي
بېدردان بـــــه پـــه درد کله کړې (یونسه)
مړې ایرې که هـــر څه پو کړې اور به نشي

# شورا په اسلام کي

د اسلام دين موږ ته لار ښودنه کړې ده چي په فردي او اجتماعي کارو کي يو له بله سره سلا او مشوره وکړو. په قران شريف کي يوه سوره د (شورى) په نامه ده. خداى تعالى پدې سوره کي هغه مومنان په ښو ياد کړي دي چي په خپلو کارو کي مشوره کوي. د خپلوانو ، دوستانو ، لويانو او پوهو کسانو سره مشوره کول ښه کار دئ.

خداى تعالى و محمد (ص) ته سره له دې چي د خداى (ج) پيغمبر دئ په قران کريم کي امر کړئ دئ چي د ژوند په کارو کي د خپل امت سره مشوره وکړي.

حضرت محمد په زياتره کارو کي د خپلو اصحابو او يارانو سره مشوره کوله.

مسلمانان تل په خپلو کارو کي که فردي وي که اجتماعي ، يو له بله سره مشوره کوي. ځکه په کارو کي مشوره کول د اسلام د ادابو او ښوونو څخه دي

موږ د قران کريم په حکم په خپلو کارو کي مشوره کوو. وطني جرګې ، چي د خپلو کارونو د حل او اجرا له پاره يې جوړوو زموږ د اسلامي عادتو د جملې څخه دي